Social Sceince
AcademicJournal
لېد د ټولنيزو علومو علمي مجله
LSSAJ

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

# سعدالدين شپون او معاصر پښتو نثر: يو سبکپوهنيز تحليل

**پوهنمل بريالی ثاقب**
پښتو څانگه، د ادبياتو پوهنځی، بلخ پوهنتون، بلخ-افغانستان
ايميل: saqebbaryalay@gmail.com

ترلاسه سوي: ۱۴۰۴/۱۲/۱۰ ، منل سوي:۱۴۰۴/۱۰/۱۲، خپره سوي: ۱۴۰۴/۱۱/۱۳، مخونه: ۹۷-۱۱۰

**لنډيز**

سعدالدين شپون د معاصر پښتو ادب له نوميالیو او اغېزمنو ليکوالو او شاعرانو څخه دی چې د فکري ژورتيا، ژبني نوښت او ادبي ژمنتيا له لارې يې د پښتو ژبې او ادب په بډاينې کې مهم رول لوبولی دی. هغه په نظم او نثر دواړو برخو کې ارزښتمن آثار ليکلي او ځانگړی ادبي هويت يې رامنځته کړی دی. دا مقاله د تشريحي تحليلي ميتود او کتابتوني بنې پر بنسټ د هغه د ادبي سبک ځانگړنې څېړي. د څېړنې پايلې ښيي چې د هغه نثر هنري پخوالی، ژبنی ظرافت او فکري ژورتيا لري. ساده خو اغېزمن بيان، طبيعي روانوالی او تصويرگرايانه اسلوب يې د سبک مهمې ځانگړنې دي. همدارنگه، د هغه سبک د واقع گرايانه ليد، انتقادي شعور او ټولنيز تعهد پر بنسټ ولاړ دی او د معاصر پښتو ادب د سبکي تحول له مهمو بېلگو څخه گڼل کېږي.

**کليدي کلمې:** سعدالدين شپنون، سبک، داستاني ادب، سبکيتحليل، معاصر پښتو نثر.

# Saaduddin Shpoon and Contemporary Pashto Prose: A Stylistic Analysis

**S.T.A Baryaly Saqib**
Department of Pashto, Faculty of Education, Balkh, University, Balkh-Afghanistan
Email: saqebbaryalay@gmail.com

**Abstract**

Saaduddin Shpoon is one of the prominent and influential writers and poets of contemporary Pashto literature who has played an important role in enriching the Pashto language and literature through intellectual depth, linguistic innovation, and literary commitment. He has produced valuable works in both poetry and prose and established a distinct literary identity. This article examines the characteristics of his literary style based on a descriptive-analytical and library-based method. The findings show that his prose reflects artistic maturity, linguistic subtlety, and intellectual depth. His simple yet effective expression, natural fluency, and imagery-based style are key features of his writing. Moreover, his style is grounded in realism, critical awareness, and social commitment, representing an important example of stylistic transformation in contemporary Pashto literature.

**Keywords**: Saaduddin Shpoon, Style, Fiction Literature, Stylistic Analysis

## سريزه

هر ليکوال يا شاعر د يو ځانگړي سبک لرونکی او يا هم پيرو وي. نوښتگر ليکوال او شاعر ځانته خپله سبک رامنځته کوي او نور؛ نو بيا ډېری ليکوال او شاعران مقلد وي، د مشهورو ليکوالو او شاعرانو د سبک څخه متاثر او د هغو د سبکونو څخه پيروي کوي. په دې علمي مقاله کې د سعدالدين شپون د

سبک پر خصوصیاتو باندې بحث شوی دی په اغلب گومان چې د شپون د سبک پر ټولو ځانگړنو باندې به نه یم توانېدلی چې تشریح او یا یې وسپړم؛ خو په نسبي ډول مې د ده نامتو لیکوال د سبک ځینې خواوې راسپړلي دي او پر هغو برخو یې غږېدلی یم، چې د ده د سبک مهم خصوصیات یا ځانگړنې دي.

د سعدالدین شپون سبک په پښتو معاصر ادب کې یو ځانگړی او اغېزناک ځای لري د همدې سبک مهمې ځانگړنې مې په دې مقاله کې څېړلې دي، دبېلگې په ډول د ده د لیکنو محتوايي برخه، د ژبې کلمات او ترکیبونه، ښکلاییزه برخه او ځینې نورې برخې به په خپل وار سره په لاندې برخو کې تشریح او څېړل شوې دي.

## د څېړنې ستونزه

هره پدیده چې دې نړۍ ته راغلې ده او یا هم موجوده ده؛ نو له ستونزو څخه به خالي نه وي همدا ډول د څېړنې او تحقیق په ساحه کې ډېر کله لیکوال له ځینو ربړو سره لاس او گرېوان وي د دې علمي مقالې د لیکلو په لړ کې زه له لویو او جدي ستونزو سره مخ شوی نه یم او هغه مخ ته پرتې او کوچنۍ ستونزې چې وې هغه حل شوې.

## د څېړنې ارزښت او اړتیا

د دې څېړنې ارزښت او اړتیا په دې کې ده، چې د دې علمي مقالې په لیکلو کې لومړی د کره، مهمو او لومړي لاس ماخذونو څخه استفاده شوې ده. سعدالدین شپون د پښتو ادب، د معاصرې دورې هغه لیکوال او شاعر دی، چې آثار یې په هنري لحاظ عالي او د مطالعې وړ دي. په داستاني برخه کې یې لیکنې د اولس په ژبه لیکل شوې دي، شوخي او ساده گي لري، لهجه یې کلیوالي ده، د اولس پر ژبه غږېدلی دی او لوستونکی یې په مطالعې نه ستړی او هم زړه نه ورته تنگوي. همدا ډول د ده ډېری لیکنې مقناطیسي خاصیت لري، لوستونکی او مخاطب ځانته کش او جذبوي.

## د څېړنې پوښتنې

په دې علمي مقاله کې چې د شپون صاحب سبکي ځانگړنې تحلیل شوي دي او لاندې پوښتنې ځواب شوي دي.

1 - سعدالدین شپون د کوم مهم او مشهور سبک پیروي کړې او یا هم ترې اغېزمن شوی و؟

2 - د پښتو د داستاني ادب دغه مخکښ لیکوال نثر څه ډول دی؟

## د څېړنې موخې

د دې څېړنې موخې دا دي، چې د پښتو ادبیاتو د اوسني ادبي دورې، د داستاني ادبیاتو لیکوال شپون صاحب د ادب او فرهنګ په برخه کې کومې ادبي پنځونې کړې دي. د همدې تخلیقي لیکنو څېړل، سپړل او تشریح ده، چې د پښتو ادب مینه وال او لارویان د ده له هنر او تخلیق سره اشنا او بلد شي.

### د څېړنې مخینه

سعدالدین شپون د معاصرې ادبي دوره خلاق لیکوال او شاعر دی؛ نو د ده د ژوند، ادبي هڅو، ادبي او هنري پنځونو باندې ډېرو لیکوالو، مقالې لیکلې او مهمې لیکنې یې هم ورباندې کړې دي. په همدې مقاله کې هم د ارواښاد شپون په هنري لیکنو (نظم، نثر) او او نورو اړخونو باندې بحث شوی دی او له دې پخوا هم پر نوموړي ادیب زیاتې لیکنې شوې دي.

### د څېړنې اصلي موضوع او موندنې

د مقالې د اصلي عنوان په تړاو، چې د سعدالدین شپون د سبک ځانګړنې تر سرلیک لاندې دی؛ نو اړینه ده، چې لومړی پر سبک باندې هم بحث وشي او ویې پېژنو. کاندید اکادمېسن محمد صدیق روهي په خپل اثر (ادبي څېړنې) کې د سبک پېژندنه داسې کوي. «سبک عربي کلمه ده، چې د سرو او سپینو زرو د ویلې کولو او تویولو په معنی راځي او سبیکه د زرو ټوټې ته ویل کېږي اما په اصطلاح کې سبک د ویلو او لیکلو خاص ډول او طرز ته ویل کېږي. د عربي د سبک په مقابل کې اروپایان د (Style) کلمه استعمالوي، که څه هم د ستایل لغت د سبک په نسبت زیات جامعیت او ارتوالی لري؛ ځکه چې د غربیانو (Style) د ټولو کړو وړو (لکه نخا، رسم او داسې نورو) لپاره، چې په یوه خاص او ممتاز ډول سره وي استعمالېږي د پارسو پخوانو ادباوو به د سبک پر ځای د فن، طرز، سیاق، طریقه، شېوه، اسلوب، دا او داسې نورې کلمې استعمالولې؛ مګر اوس د سبک کلمه ډېره تعمیم شوې ده.» (روهي،۱۳۸٦، ۸۴مخ)

پورته کوم تعریف، چې د سبک شوی دی؛ نو د همدې په تړاو ورته یو بل جامع تعریف یې هم دلته راوړو، چې موضوع لا روښانه شي.

«سبک د کره کتنې اصطلاح ده، چې د ځینو په نظر نوع او د ځینو نورو په نظر یو کل دی، چې د هغې په وسیله د افادې وصف یا ډول پېژندل کېږي. د یو بل تعریف له مخې سبک د کلماتو هغه ترتیب ته وایي، چې په خورا ښه ډول د لیکونکي شخصیت، مفکوره او ذهني نظر څرګند کړي. ډېر ښه سبک هغه دی، چې د لیکونکي یا ویونکي ذهني مفکوره عیناً تمثیل کړي، که څه هم د دغه مقصد لاسته

راوستل ډېر ګران دي؛ مګر ليکونکی زيار باسي تر کومې چې بشري محدوديتونه اجازه ورکوي دغه مقصد تر سره کړي.»
(روهي، ۱۳۸۶، ۸۵)

تر دې ځايه مو د سبک بېلابېل تعريفونه وکړل او سبک مو وپېژانده. اوس به د سعدالدين شپون د سبک پر ځانګړنو بحث وکړو. استاد اجمل ښکلی په خپله هغه ليکنه کې، چې د شپون د سبک په تړاو بې کړې ده، وايي، چې د استاد شپون په کيسو کې د نورو ليکوالو غوندې نطق يا پېچلې فلسفي خبرې نه وينو. نوموړی د سعدالدين شپون د سبک د خصوصياتو په تړاو داسې ليکي. «ماشوم شوخ هم وي او شوخي د استاد شپون د سبک تر ټولو لويه ځانګړنه ده. طنز تريخ وي، اخلاقي پيغام لري، اکسېرلې درته وايي، په خندا خندا کې دې ژړوي او ټکونه دربانديې کوي؛ خو شوخي د ماشومانو خاصه ده؛ ځکه چې ماشوم درسره هغه بريدونه او پولې چې تا د ارزښتونو په نامه روغې کړې نه مني او بغاوت کوي؛ ځکه خو ماشوم فطرت ته نژدې باله شي. پوهان د طنز او شوخۍ ترمنځ توپير نه کوي په اردو کې ورته طنز و مزاح وايي يانې مزاح، شوخي او طنز طنز ته وايي» (ښکلی، ۱۳۹۰، ۱۲۹-۱۳۰مخ)

دلته د استاد شپون يو دوه نمونې راواخلو، چې دی ليکي «بختوره د پوسته کي لور وه او د کلي ښځو به تل د بختورې سره غولانځوره هم غبرګوله او دا کومه د حيرانتيا خبره نه وه. بختوره د اتلسو کالو وه، نوره په صورت نری لکه لښته خو سينې يې د وړو هندوانو په شان مخ ته راوتلې وې چې حتی په لوی کليوالي کميس کې هم نه ځايېدې.

د پټي په بل سر کې، درمند ته نژدې ورته غلی شوم او غوښتل مې د هغو اوازو معلومات وکړم چې د کلي هلکانو به ويل، بختوره چندان په پوست کې پاکه نه ده» (ښکلی، ۱۳۹۰، ۱۳۰مخ)

د استاد شپون په ټولو کيسو دا شوخي خپره ده شوخي له خونده پيدا کېږي او استاد په هر پېښه کې دغه خوند لټولی دی. د ده سبک په همداسې ماشومانه شوخۍ راڅرخي او د سنتي، دودونو، رواجونو او د ټولنې څخه بغاوت کوي. د استاد بغاوت هم د لويانو غوندې تريخ نه دی. د شپون د سبک بله ځانګړنه نری بغاوت هم رابرسېره شو او دی له ټولنيزو ارزښتونو بيخي بېزار هم نه دی.

د استاد په سبک کې اخلاص ډېر ليده شي. هر څه درته له بخل او زياتوالي پرته مخ ته بړدي. د کليوالو د فکر طرز په رڼه بڼه وړاندې کوي، د کلمو د ښکلا پر ځای دقت ته ډېره پاملرنه کوي. تشبيهاتو، استعارو او کنايو پر ځای چې مجازي معناوې رامنځته کوي مستقيمې ژبې ته ډېر تمايل لري؛ خو

مستقیمه ژبه یې د ساده توب هنر لري کیسې یې له محض انځورونو مالامال دي. انځورونه د تشبیهاتو، سمبولونو، استعارو او نورو لارو وړاندې کوي.

حسي انځورونه د استاد د سبک بله ځانګړنه ده. استاد حسي او په حسي انځورونه کې هغه انځورونه خوښوي، چې د باصرې حس ته متوجه وي. له کلمو سره د استاد شپون ځانګړې چلند د ده سبک ته ښکلا وربښلې ده.( ښکلی، ۱۳۹۰، ۱۳۰-۱۳۵مخ)

استاد شپون د پښتو ادبیاتو ښه کیسه لیکونکی، شاعر، کره کتونکی او استاد دی. کالمونو ته ورته تبصرې یې هم لیکلي دي؛ خو په ناول لیکنه کې تر نورو نامتو دی.

د کیسو او ناولونو په ګډون په نثر لیکنه کې خپل خاص سبک او سټایل لري، چې سیمه ایز اصطلاحات په کې کاروي او د لوستونکو ذوق هم په پام کې ساتي.

ډانګپلی نثر لیکي او په شفاهي ویناوو کې په چا ری نه وهي. د استاد شپون ناولونه نه یوازې دا، چې د افغاني ټولنې ځانګړې چاپېریال لري ستونزې او کلتور منعکسوي، بلکې د تخنیک او فن له پلوه هم پوره او ښکلی دی خصوصاً شین ټاغی ناول یې ډېر ستایل شوی دی. (وفا، ۱۳۹۶، ۱۸۳مخ)

استاد بریالی باجوړي د استاد شپون د لیکنو په تړاو لیکلي« سعدالدین شپون شعر هم وایي او په لنډه کیسه په ځانګړې توګه په ناول لیکلو کې خو خاص نوم لري. د شپون شعر هم د لوړې پایې شعر دی؛ خو داستاني برخه یې زیاته او د ده شعر یې تر سیوري لاندې نیولی دی. په شعر کې د ده دوه مجموعې چاپ شوي، چې لومړنی یې (برخه په ترخه) او دویمه یې شین خالی پیدا شوه.

د ده په شعرونو کې د وطن تېرشوی او روان حالات په ښکلي هنري بڼه انځور شوي دي. شعر یې خوږ، روان او پیغام لرونکی دی؛ خو په دومره توپیر، چې پیغام یې په هنري بڼه وړاندې کوي او له شعار نه ځان ساتي. د ده کمال په شعر کې دا دی، چې ډېر داسې مفاهیم چې شعر نه دي، دی یې شعر کوي او په هنري بڼه یې وړاندې کوي. ( باجوړی، ۱۳۹۷، ۱۵۷ـ۱۵۸مخ)

استاد شپون په خپلو لیکنو کې د داستاني عناصرو او یا توکو دومره پروا نه ساتي او همدا لامل دی، چې ډېرې کیسې یې پیښې نه لري او لکه د یو چاپېریال او یا هم کوم شخص بیان دي. د شپون صاحب په کیسو کې، چې کوم شی ډېر په زړه پورې دی هغه د ده د کیسو کرکټرونه دي

چې ډېری هغه یې د کلیو او باندېو زیبر، شډل او نالوستي کسان دي. د کرکټرونو تصویري اړخ یې ډېر هنري دی او همدارنګه د چاپېریال ترسیمول؛ خو یې ډېر زړه راښکونکی دی، چې حتا ډېر جزیي شیان یې هم له نظره نه شي پټېدای.

د شپون صاحب د داستاني تصویرونو ډېر دقیق انځور شوی دی، چې دا شان انځورونه به زموږ په ډېرو لږو کیسو کې ولیدل شي.

د ده په ډېرو کیسو کې د طنز یا شوخۍ مالګه ګډه ده، چې همدې طنزونو او د خندا څپو د شپون نثر لا ښکلی کړی دی. په دغه طنزي انداز کې ژور مسایل او پېښې رانغاړل شوې دي.

د ده په نظم کې هم هر ډول مضامین ځای شوي دي. د بېلګې په ډول د (مجاهد بې وفا یار) تر عنوان لاندې نظم یې د تاریخي پېښو په بیانولو سربېره د هغه وخت د پرمختللو او عصري وسلو د نومونو کارول په نظم کې یو نوی والی دی.

لکه لاندې بیتونو کې:

ستا د سترګو شوبلې راغلې
د زړه کلي ورانوي
کړې وروځې نرۍ ملا دې
پښتانه روسانوي
×××

یو ورک نومی کلیوال وم
یو تش لاسی مجاهد وم
اوس مې نوم په درست جهان کې
عاشقان ګردانوي
×××
زما زړه په توره بوړه
ستا برګې کړې ګوزارونه
که همت راته ستېنګر شي
د زړه کار اسانوي
×××
په رګ رګ کې مې کرلي
تا ظالمې پېټ ماینونه

ربه داسې سترگې راکړه
چې پټ ماین عیانوي
×××
ستا د حسن یا هیاهی مې
ټول وجود کنډو کړ کړ
زړه مې هسې سلطان غواړي
چې مې بیا ودانوي
(باجوړی، ۱۳۹۷، ۱۶۲، ۱۶۳مخ)

پورتني کلام کې یې د خپلې معشوقې ظلم او ستم د وخت جگړیز حالت سره ورته کښلی دی او دارنگه د هغې سترگې، وروځې، ملا چې عاشق یې په ستاینه نه مړیږي هغه یې د وخت له پښتو سره ورته انځور کړي چې دا خپله په کلام کې د یو نوي مضمون ایجادول دي. د هغه حسن یې په هنري انداز ستایلی دی.

مخکې مو هم وویل چې شپون صاحب په خپلو نثري لیکنو کې د هنري نثر ترڅنگ ډېر ځله عامیانه خبرې، اصطلاحات او محاورې کاروي لکه لاندې بېلگو کې: «هگۍ مې چې له دیگي راوویستې؛ نو د پیازو رنگ یې نیولی و، موږ هغه وخت هگۍ نه رنگولې، دا دود له ښار نه راغی. چې سړې شوې، سرې سره دوه دانې مې په لمسیانو وویشلې؛ نو بیا نیم ساعت مې د هغو د جنگولو چل وروښوده. دا یې سرک دی، دا یې پچک، څوک او څنگه یې نیسي، څوک یې د هگۍ په کوم ځای وهي.» (شپون، ۱۳۹۸، ۴۹۸مخ)

همدا ډول دی په خپلو لیکنو کې لکه د پښتو د کلاسیک ادب شاعر، لیکوال او هر اړخیز شخصیت خوشحال خان خټک غوندې د چا پروا او خیال نه ساتي هر څه یې چې په خوله راغلي ویلي دي. د خلکو نه یې ویره او شرم نه دی کړی او د سنتي دودونو خلاف یې په سپین ډول هر څه په آزادانه ویلي دي. د بېلگې په ډول:« خدایږو چې زه هم یو څه ترور غوندې شوم، چې خلك به ضرور وایي چې د دهقان زوی گوره او داسې کون وازي» (شپون، ۱۳۹۸، ۱۶۷مخ) پورته خبره هم کلیوالي او څه شانته غیر ادبي ده.

که څه هم د سعدالدین شپون پورتنۍ خبره له ادبي پلوه یو څه غلیظه ده او هر ځای د داسې خبرو او محاورو کول مناسب نه برېښي؛ خو بیا هم دا باید ومنو، چې زموږ په عامیانه خبرو، وېناوو او اصطلاحاتو

کې د خلکو ترمنځ لا له دې ډېرې داسې سپينې او بربنډې خبرې کېږي، چې کله خو يې ويل څه په اورېدلو يې هم سړی د شرم احساس کوي.

سعدالدين شپون هغه ليکوال دی، چې په کمي او کيفي لحاظ يې آثار د مطالعې او ارزښت وړ دي، په ځانگړي ډول د ده داستاني ليکنې، چې له نيکمرغه ټول د چاپ په گاڼه سمبال شوي دي.

په دې مقاله کې، چې د استاد شپون ليکنو ته ځانکړې شوې ده، د نظم برخه او هم د نثر خواوېې يې ډېرې شاربل شوې دي. په ځينو اړخونو مې چې کوم بحث کړی هيله ده، چې د څېړنې حق مې پرځای کړی وي او هغه واقعيتونه، چې د شپون په ليکنو کې نغښتي هغه به مې په سم ډول رابرسېره کړي وي.

اوس به د استاد شپون پنځونو ته له فکري اړخه هم يو څه ور دننه شو او د ده، له مفکورو سره به ځان څه نا څه اشنا کړو، دغه برخه به د ده په نظمونو کې لا ښه وسپړو.

د ارواښاد سعدالدين شپون د شعرونو او نظمونو څخه دا څرگندېږي چې ده ملي مفکوره لرله. د فکر محور يې وطن، د وطن سره مينه له خپلو خلکو سره يې مينه درلوده. ده هر وخت د هېواد د راتلونکي او د هېوادوالو د دردېدلي او کړېدلي حالت فکر کاوه او په خپلو شعرونو کې يې له انسان سره خواخوږي او همدردي ښکاري. ده خپل هېوادوال په خپلو ليکنو کې د ويښتيا په لور هڅولي او د نظم په ژبه له هغو سره خواخوږی دی. ده ځينې کړنې داسې انځور کړې دي:

ته کرار کرار بهېږه چانه مه غواړه اجرونه

دا د تور کاڼو زړونه، دې کې نه کېږي کښتونه

په وربښمين پاسته دسمال يې چې په ناز ناز پاکولې

اوس د تورو خاورو لاندې شول هغه پاسته لاسونه

چې به ته سترگو کې ډنډ شوې په لېمو يې ښکلولم

هغه سرې شونډې اوس شرنې دي او ښکلو پرېږدی جلبونه

زړه په سترگو ليده نه شي چې مې خلکو ته ښکاره کړای

د تناکو زړه عادت دی چې له سترگو کړې ټوپونه

زړه چې غوټه کړي غمونه، سترگې مرستې لره ورشي

چې د بل په اوښکو خاندي د هغو خېرې شه زړونه

چې اشنا ورسره نه وي د هغو به لا څه ژوند وي

اې زمانې قدرې او ښکلې! ای دور کې مينې نښې

(شپون، ۱۳۹۸، ۷۰۶، ۷۰۷مخ)

په دې برخه کې د استاد شپون داسې نور مثالونه هم شته چې د غمژن زړه درد په کې منعکس شوی وي. په دې نظم کې یې د انسان سره، همدردي، زړه سوی او لورینه له ورایه ځرګندیږي. که څه هم هر حساس دماغ او ویښ وجدان، د انسان په درد باید دردمند او په ښادی یې خوښ شي؛ خو ځینې انسانان د سادیزم په ناروغۍ اخته وي، چې د بل په درد او غم کې راحت او خوشحال وي او برعکس په ښه ورځ یې بیا نارام او غمجن وي.

یا هم دا ښکلی کلام چې د زانې تر عنوان لاندې لیکل شوی دی.

ستا اوږده اوږده وزرونه، هندوکش له غرونو جګ دي
لنډوي اوږده منزلونه چېرته ځې کله رسېږې؟
د نیلي اسمان پېغلې ولې دمره جګه ګرځې
راته ښکاري پښتنه یې له زلمیانو نه شرمیږې
زه یې اورم چې ته بولې ها خوږې خوږې بدلې
زه دې ګورم چې ته خاندې او بیا ورانه کېږې

(شپون، ۱۳۹۸، ۸مخ)

د استاد شپون په ښکلاېزه برخه کې هم هغه هنري خواوې شته، چې د ده نظمونو ته یې د ادبي صنایعو له نظره خاص ښایست وربښلی دی. که څه هم ځینې نظمونه به یې د نظم په تعریف کې را ایسار وي او هنریت به یې لږ شانته تت هم وي؛ خو په ځینو نظمونو کې یې هنر شغلور شوی او د ده نظم یې د شعر تر بریده رسولی دی. شعر یې بیا په شعري چوکاټ کې شعریت لري او له هنره مالامال دی. د ادیبانو او د ادب د مینه والو د پام وړ ګرځېدلی دی.

په نظم کې د انځور جوړولو یا هم د تصویر جوړولو یوه لاره هم ادبي صنعتونه دي، چې په نظم کې د شاعرانه رنګ سبب کېږي. ادبي صنعتونه دي، چې د شاعر شعر، نظم، وینا او کلام ته ښکلا وربښي او د شاعر احساس رنګین او ښکلي کوي، چې د استاد شپون په شعرونو کې هم ادبي صنعتونه له ورایه ښکاري دلته د استاد شپون د کلام ځینې بېلګې راوړل شوې دي، چې نوموړې موضوع لا ښه تشریح، واضح او روښانه شي.

په نظم او په ځانګړې ډول په شعر کې څلور توکي ډېر مهم دي، چې عبارت دي له احساس، عاطفه، تخیل او اهنګ څخه. کله چې همدا مهم عناصر په کلام کې موجود وي بیا؛ نو هغه نظم د شعر مقام

ته پورته کېږي. شاعر په خپلو شعرونو کې خواخوږي لري، د همدې لپار مې د خوشحال خان خټک یو بیت راوړی دی.

خوشحال بابا فرمایي:

کشکې ځوان د پښتانه په ننګ کې مړ وای

نه چې ګور لره روان شه له تلتکه

(هېوادمل، ۱۳۸۰، ۱۱۵)

د همدې بیت په تړاو استاد شپون داسې لیکلي:

مرګ حق دی درېغه دا چې هسې مړ وای

چې وطن ټول نازېدای د ده په نام

چې د خپل لپاره خپل ټټر قربان کړي

د شپانه ورته سرټیټ په احترام

(شپون، ۱۳۹۸، ۵۸مخ)

په دې بیتونو کې د تضمین ادبي صنعت واقع شوی دی. خوشحال د خپل زوی په ویر غمجن نه دی؛ خو په دې خفه شوی، چې کاشکې د ننګ او مېړانې په ډګر یا لاره کې مړ وای. همدا مېړانه او په خلکو ننګ کول د سعدالدین شپون لپاره د ویاړ سبب شوی او د خوشحال خان له فکر څخه اغېزمن شوی دی. خپله مفکوره یې د هغه سره اړوند پاللې ده او هغه عالي احساس یې د ستایلو دی.

لاندې یوه بله بېلګه بیا داسې ده:

د نیلي اسمان پېغلې ولې دومره جګه ګرځې

راته ښکارې پښتنه یې د زلمیانو نه شرمېږې

(روهي، ۱۳۸۴، ۱۳۴مخ)

پورته بیت کې د خیال په وزرونو د هوا یوه الوتونکې چې په اغلب ګومان زانې ته اشاره ده. د هغې لوړ الوتل یې د پښتنو پېغلو له هغه حیا او ستر سره تشبیه کړی دی، چې ډېرې پېغلې د خپل عزت، حیا، عفت او وقار له کبله د اسلامي مقدساتو سره اړوند ځانونه عیاروي. بې ستري او بې حیایي نه کوي او د خپل مذهبي اصولو او سنتي دودونو تابع دي.

د سعدالدین شپون آثار په ژبني لحاظ هم د پام وړ دي. ده په خپلو نظمونو او نثرونو کې د ډېرو شاعرانو او لیکوالو خلاف تر ډېره بریده په قصدي ډول د نورو ژبو لغتونه او کلمې ډېرې نه کاروي، هڅه کوي،

چې داسې کلمې او لغتونه راوړي چې په کلو او بانډو کې دود او خلك ورسره بلد وي. په ټولیز ډول د ده په لیکنو کې د کلیوالو خلکو ژوند انځور شوی دی. په کلام کې یې داسې سختې کلمې شاید ډېرې کمې وي، چې د لوستلو په وخت کې سړی اړباسي چې فرهنګ ته مراجعه وکړي.

د سعدالدین شپون په سبکي ځانګړنو باندې باید دا هم زیاته کړو، چې دی په خپلو لیکنو کې هنري خواته ډېر پام کوي. کاندید اکاډمیسن محمد صدیق روهي د ده په هکله وایي:« دی په خپله لیکنه کې د اکثرو لیکوالو په خلاف نېغ په نېغه سیاست ته نه ورګډېږي او فورمالېزم یعني د هنر ښکلي اړخ ته زیاته پاملرنه کوي» (روهي، ۱۳۸۴، ۱۲۴مخ)

سعدالدین شپون د خپل ادبي ژوند ډېره برخه لیکنو په ځانګړي ډول داستاني برخو ته وقف کړې ده، چې په هغو کې لنډې کیسې، داستاني طرحې، ناولونه او نور خپاره شوي دي. د شپون نثر خوږ او روان دی، هېڅ ډول پېچلتیا نه لري، کیسې او ناولونه یې د هغه د ژوند د تجربو نچوړ دی. هغه د داستاني آثارو په لیکنو کې خیال ته نه ورګډېږي په موضوع پسې تر لرې ځایونو ځان نه سرګردانوي، هغه په همدې خپل محیط او چاپېریال کې له ګڼو موضوعاتو یوه یا څو را اخلي او د خپل اثر سوژه ترې جوړوي.

(انځور، ۱۳۹۳، ۴۶۱مخ)

د سعدالدین شپون د کیسو چاپیریال د هغه د ژوند چاپیریال دی. که هغه په کور دننه دی او که بهر، په ټوله کې دی خپل ځان هملته ویني؛ نو همدا لامل دی، چې کیسې یې د خیال په زور لیکلې شوای. هغه د خپل ژوند او خپل چاپیریال د تجربو، لیدنو او پېښو یو دقیق، کره خو په زړه پورې بیان او داستان دی. طنزي لیکنې ترخه حقایق په هنري انداز کې وړاندې کوي. د ده د ( و، نه و، یو شپون و) نومي اثر څخه یې یو دوه بېلګې دلته را اخلو: « ابا درې ښځې لرلې او دا زما په ژوند کې مهم عنصر و. زما ادې خو یې له ځانه سره د خوریاڼو نه یې راوستې وه. بله یې د ورور کونډه وه چې مور ګډوله، (کابل کې چې یو نسل هزاره وي بل پښتون یا تاجک، نو ورته هزاره ی ګډي وایي) مور نیمه هزاره، پلار پښتون، یا کوم بل همداسې ترکیب. وروستی ځوانه ښځه یې همداسې ګډې وه، خو پښتو یې نه وه زده خو فرق یې نه کاوه، زموږ په کور کې پښتو ژبه او کلچر غالب و، ټولو د بچیانو سره پښتو ویله. یو خوندور مثال: ابا مې یوه ورځ پس د سهار د چایو، د درې واړو په مخکې زما مور ته وویل: جلې چا راسره د بډه ووښ وعده کړې، چې بله هفته به یې راوړي. د خوریاڼو په لهجه کې چې یوازې مور مې پرې پوهېده بډه ووښ ځنګلي دانې یا سابه دي چې په پارسي کې کورې (که وه رې) او په انګرېزي

کې Capers بولي. دويمې ميرې مې د ښځګلو د عادي حرص له مخې واړ ړومبی کړ« ښه شو، ځکه چې زما بالښتونه هم ټول تش دي، بډه ګال غواړي چې ډک يې کړم» بډه ګال د سيند دغاړې لوښو او د درو د وړو د څوکو پخې دي چې خلک يې هم د ختو سره ګډوي او هم غريبان چې د مالوچو توان نلري بالښتونه ترې ډکوي نو پلار او مور مې دواړو مرموز وخندل چې دويمه ښځه د بډه ګال او بډه ووښ فرق نه شي کولای بس نو په کور کې عجيبه پښتو وه نر ښځه کړه او ښځه نر.» (شپون، ۱۳۸۴، ۱۲-۱۱مخ)

يا هم د همدې اثر څخه يو بل مثال را اخلو چې د ( پلار وژل جهاد دی) تر عنوان لاندې ليکل شوی دی.

« په واشنګټن کې يو ماښام خالص زما مېلمه شو نور يې څوک رانه وستل يوازې وو، موټروان يې بهر منتظر وو چې بيا د خالص په امر موږ هماغلته ډوډۍ ور وړه؛ خو هغه ونه خوړه ويل يې چې ماته اجازه نه شته؛ خو خوار ګرم هم نه وو غوږ پولاو او قورمې د موټر په سيټ کې رسوايي جوړوي، هغه هم د جمهور رئيس په سويه لېموزين کې. زما زوی ميرويس تل د جهاد ارمان کاوه او اوس؛ نو خالص ته يې وويل چې کاکا ما درسره بوځه جهاد ته. خالص ماته سترګه وټومبله او هغه ته يې وويل: زه به داسې جهاد در وښيم چې هيڅ افغانستان تګ ته دې حاجت نه شي، همدلته جهاد وکړه. ميرويس په خوشحالۍ ومنله او منتظر پاتې شو، چې اوس به د جهاد لار ورښيي. خالص وويل: بس دا خپل پلار مړ کړه دا جهاد اکبر دی. ميرويس سور شو، شين شو او تور شو ما او خالص د زړه له اخلاصه خندل.» (شپون، ۱۳۸۴، ۲۳۸ـ۲۳۹مخ)

په پورته متن کې د خالص څخه هدف د اسلامي حزب مشر يا رهبر مولوي ملا محمد يونس خالص دی، چې د سعدالدين شپون ځانګړی ملګری و او ده په خپلو ليکنو کې د هغه ډېره يادونه کړې ده، نوموړی د جهادي او سياسي څېرې سره د پښتو ادب ښه شاعر او فرهنګي شخصيت هم و.

د سعدالدين شپون طنزونه هم په اوسنيو حالاتو راڅرخي. دی هغه ليکوال دی، چې د پښتو ادبياتو د طنز په برخه کې د لوی نوم خاند دی. هغه د طنز او داستاني ادبياتو په برخه کې د هنر تومنه ګډه کړې ده. هغه طنز هم د اولس په ژبه ليکي. خبرې او ځانګړې کردارونه د ده يو فوق العاده ځانګړنه وه چې د ده ليکنو ته يې يو خاص رنګ او خوند وربښلی دی. نثر يې چې څومره مشهور دی لامل يې دا دی، چې په نثري ليکنو کې طنزي خصوصيات لري او د خپلې ژبې ظرافت يې ډېر لوړ بيان شوی دی او په همدې خاطر يې له نورو ليکوالو څخه جلا کړی هم دی. دغه ظرافتونه د ده په داستاني ادبياتو کې ډېر

راغلي دي. استاد شپون په داستاني ادبیاتو کې یو ځانګړی استعداد درلود او دا داستانونه یې په یو ځانګړي ډول او هنري بڼه طنزي کول. د هغه د طنز او نثر یوه مهمه ممیزه دا ده چې نثر یې له خپل اولس ځنې خروب شوی دی او په ټوله کې د افغاني ټولنې ښخه رازبرېدلی دی.

**پایله**

د دې علمي او څېړنیزې مقالې چې د سعدالدین شپون د سبکي ځانګړنو تر عنوان لاندې لیکل شوې ده؛ نو په پایله کې یې داسې ویلای شو، چې استاد سعدالدین شپون په خپلو لیکنو کې هغه که د نثري برخه ده یا هم د نظم، شاعري یا بل هر هنري ژانر دی، په ټولو کې عام فهمه لغت یا کلمه کارول غوره ګڼلي، عامیانه اصطلاحاتو او محاوروته ډېر پام کوي. په نثري برخه کې شوخي او سکوندنه د ده د نثرونه یو بارزه ځانګړنه ده، چې د لا هنریت سبب ګرځي.

دارنګه د عادي خبرو په پیروۍ ځینې ځایونه د جملې ځینې برخې تغییروي. دی د خلکو خبرو ته هم دقت کوي او د هغه خبرې کټ مټ را اخلي او په دې ډول خپل نثر لا ډېر خبرو ته نژدې کوي.

کله چې د استاد شپون نثر لولې د کیسې په منځ کې دې نورو کیسو ته بیایي. کله چې څوک د هغه له لیکنې سبک سره اشنایي یا بلدتیا ونه لري؛ نو زما په پوهه د استاد شپون لنډه کیسه یا بل هر داستاني اثر ورته په زړه پورې نه او شاید چې کله کله وربانديې پوه هم نه شي.

د شپون د لیکنې همدا ځانګړنه په غالب ګومان، چې نورو ښخه دی بېلوي او د یو ځانګړي سبک لیکوال په حیث خپل ځان ټاکي. سعدالدین شپون د ځانګړي سبک ښبتن او لرونکی دی، چې د نورو له سبکونو ښخه اغېزمن شوی نه دی او خپله د خاص سبک نوښتګر او ایجادونکی ګڼل کېږي.

**وړاندیزونه**

د دې مقالې په پای کې زه د پښتو ادب مینه والو په ځانګړي ډول محصلانو ته دا وړاندیز کوم، چې د معاصرې ادبي دورې د لیکوالو او شاعرانو آثار او لیکنې په کره ډول مطالعه کړي، د هغو له سبک سره ځان اشنا کړي او پر آثارو باندې یې علمي مقالې ولیکي. بل وړاندیز مې د بلخ پوهنتون رهبرۍ ته متوجه دی هغه دا چې کله یو استاد علمي مقاله لیکي یا هم څېړنه کوي. همدا ډول کومه علمي پروژه مخ ته وړي باید په کافي اندازه ورته بودجه ځانګړې شي. هر کله چې دا کار وشي؛ نو څېړونکی او لیکوال له مالي پلون ډاډمن وي، له ستونزو سره نه مخ کېږي او په پوره انرژۍ او ښه فکر سره به یوه څېړنیزه پروژه په کره او پوره ډول سرته ورسوي.

**اخځلیکونه**

انځور، زرين. (۱۳۹۳ل). پښتو معاصر داستاني ادبيات. كابل: دانش خپرندويه ټولنه.

باجوړی، بريالی. (۱۳۹۷ل). د پښتو ادبياتو معاصر تاريخ (د ويښتيا پړاو). كابل: جهان دانش خپرندويه ټولنه.

بېنوا، عبدالروف. (۱۳۸۸ل). اوسني ليكوال (درېيم چاپ). كندهار: صداقت خپرندويه ټولنه. ترتيب او زياتونې مطيع الله روهيال.

روهي، محمد صديق. (۱۳۸۴ل). د پښتو ادبياتو تاريخ (دويم ټوک، دويم چاپ). پېښور: دانش خپرندويه ټولنه.

روهي، محمد صديق. (۱۳۸۶ل). ادبي څېړنې. پېښور: دانش خپرندويه ټولنه.

شپون، سعدالدين. (۱۳۹۹ل). يو شپون و. جلال اباد: ختيځ خپرندويه ټولنه. چاپ زيار لعل پاچا ازمون.

شپون، سعدالدين. (۱۳۹۸ل). په كاڼي كې غمي. جلال اباد: ختيځ خپرندويه ټولنه. چاپ زيار لعل پاچا ازمون.

شپون، سعدالدين. (۱۳۹۸ل). په شگو كې سره زر(د استاد شپون داستاني كليات). كابل: دانش خپرندويه ټولنه. چاپ زيار لعل پاچا ازمون.

شپون، سعدالدين. (۱۳۹۸ل). د لفظونو شپون. جلال اباد: ختيځ خپرندويه ټولنه. چاپ زيار لعل پاچا ازمون.

ښكلی، اجمل. (۱۳۹۰ل). سبكپوهنه. كابل: دانش خپرندويه ټولنه.

غضنفر، اسدالله. (۱۳۹۸ل). د نثر ليكلو هنر. كابل: مومند خپرندويه ټولنه.

وفا، محمد داود. (۱۳۹۶ل). د پښتو معاصر ادب تاريخ (څلورم پړاو). جلال اباد: مومند خپرندويه ټولنه.

هېوادمل، زلمی. (۱۳۸۰ل). ننگيالی د زمانې. جرمني: د افغانستان د كلتوري ودې ټولنه.

.

Islamic Emirate of Afghanistan

Ministry of Higher Education

Helmand University

# Leed Social Science Academic Journal

Volume:2 Issue: 2 Year:1404